# نو په خوراک مو سره راټول شئ او د الله نوم پرې یاد کړئ، برکت به پکې واچول شي

له وحشي بن حرب رضي الله عنه څخه روايت دی چې: هغوی وويل: اې د الله رسوله! موږ خوراک کوو خو نه مړېږو، هغه وفرمايل: «ښايي تاسې جلا جلا خورئ؟» هغوی وويل: هو، ويې فرمايل: «نو په خوراک مو سره راټول شئ او د الله نوم پرې ياد کړئ، برکت به پکې واچول شي».
[حسن] [ابو داود ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

ځينو صحابه وو له نبي صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: موږ خوراک کوو خو مړښت راته نه حاصلېږي. نو نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ښايي تاسې د خوړو پر مهال جلا جلا کېږئ او هر يو ځانته خوراک کوئ؟ هغوی وويل: هو. ويې فرمايل: يو ځای شئ او جلا جلا خوراک مه کوئ، او د خوړو پر مهال بسم الله ووايئ، نو برکت به پکې راشي او تاسو ته به مړښت حاصل شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4212

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee